Office of the Deputy PM for Economic Affairs

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستــان اقتصـادي پــرمختګ

## خبرپاڼه

دریيم کال - ۱۷مه ګڼه | پرله‌پسې ۷۹مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۵/۸



په افغانســتان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصــادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېــږي. د افغانســتان اقتصادي پرمختــګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروســتیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د ازبیکستان له لارې د افغان صادراتو د پراختیا له پاره د نویو اسانتیاوو غوښتنه

۲- د ډیجیټلي ټیکنالوژۍ پراختیا د اقتصادي ودې اصلي محرک

# د ازبیکستان له لارې د افغان صادراتو د پراختیا له پاره د نویو اسانتیاوو غوښتنه



د افغانســتان او ازبیکســتان ترمنـځ د اقتصــادي همکاریو د پراختیا په لړکې د افغان صادراتو له پاره د ازبیکسـتان له لارې د منځنۍ اسـیا، روسیې او چین بازارونو ته د لاسرسـي اسـانتیا د دواړو هېوادونو د اقتصـادي اړیکـو مهـم محـور بلـل کېـږي. د ریاســتالوزراء اقتصــادي مرســتیال محتــرم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبیکستان مرستیال لومړي وزیر ښاغلي جمشید خواجه‌یف سره لیدنه کې د صادراتي توکو د لېږد پروراندې د شــته خنډونو لرې کــول مهم وبلــل، ځکه د ســوداګرۍ پــه وړاندې د خنډونو لرې کول کولی شي د افغانستان د صادراتو حجم لوړ او د افغانستان تولیدي سکتور سیمه ییزو بازارونــو تــه لا نــږدې کــړي. افغانســتان د کرنیــزو محصولاتو، وچو او تازه مېوو، خوراکي توکو او قیمتي معدني موادو د تولید او صادراتو ظرفیت لري، خو د دغو محصولاتو په وړاندې د ازبیکستان له لورې د اسانتیاوو رامنځته کول کولی شي افغان سوداګرو ته د منځنۍ اسـیا بازارونو ته د لاسرسي زمینه برابره او د صادراتو د ســیالۍ وړتیا لوړه کــړي. د صادراتو د پراختیا له پاره یوازې بازار ته لاسرســی کافي نه دی. د ترانزیتي زیربناوو ظرفیت لوړول، د ګمرکي پروســو ساده کول او د صادراتي موټرو د تګ راتګ پروړاندې د خنډونو لرې کول هم مهم دي. د افغانستان له پاره د ازبیکســتان له لارې د ســیمه‌ییزو بازارونو په لور د صادراتو د مسیر پراختیا لوړ اقتصادي ارزښت لري. د ریاســت الوزراء اقتصادي مرستیال په وینا، د کابل او تاشــکند پراخه اقتصادي اړیکې نه یوازې دوه اړخیزه ســوداګري پراخوي، بلکې کولی شــي افغانستان د منځنۍ اسیا او نورو سیمه ییزو بازارونو ترمنځ په یوه مهم سوداګریز او ترانزیتي مسیر بدل کړي. ښاغلي جواجه‌یف د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سره خــبرو کې زیاتــه کــړه، د ترانســپورټ او انرژۍ، کرنې پراختیا، بانکي چارو، سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو د زیاتوالي او همدا راز په مختلفو برخو کې به د افغانانو د ظرفیــت لوړونــې پــه موخــه ازبیک مســوولین د اسلامي امارت له اړوندو ادارو سره ګډ کار وکړي.

# د ډیجیټلي ټیکنالوژۍ پراختیا د اقتصادي ودې اصلي محرک



په افغانســتان کې د مخابراتو او ټیکنالوژۍ د صنعت پراختیــا کولــی شــي د اقتصــادي ودې، د خصوصي ســکتور د فعالیتونو د پراخېدو او د کاري فرصتونو د رامنځتــه کېدو له پــاره د یوه مهم محــرک په توګه عمل وکــړي. د ریاســتالوزراء اقتصادي مرســتیال محتــرم ملا عبدالغنــي بــرادر اخوند په کابل کې د مخابراتو او ټیکنالوژۍ د لومړني نندارتون د پرانیستې پــرمهال تینــګار وکړ چې افغانســتان بایــد د خپلو موجوده امکاناتو په کارولو ســره په تدریجي ډول د سیمې او نړۍ له ټیکنالوژیک پرمختګ سره ځان برابر کړي. د ټیکنالوژۍ اقتصادي اهمیت یوازې د مخابراتي خدمتونو تر پراختیا محدود نه دی، بلکې د اقتصاد د بېلابېلــو برخــو د تولیــد، ســوداګرۍ او خدماتو د موثریت د لوړولو زمینه هم برابروي. ډیجیټلي سیســتمونه کولی شي اداري پروسې چټکې، د وخت او عملیاتي لګښتونه کم، د عوایدو مدیریت اغېزناک او په حکومتي او خصوصي فعالیتونو کې د انساني تېروتنو کچه راټیټــه کړي. د افغانســتان جغرافیوي موقعیــت هم پــه دې برخه کې ځانګــړی اقتصادي ظرفیت لري. د جنوبي او منځنۍ اسیا ترمنځ د ارتباطي مسیر په توګه افغانستان کولی شي د دېټا د ترانزیت په برخه کې مهم رول ولوبوي. که د ډیجیټلي زیربناوو پراختیــا، د انټرنېټي شــبکو کیفیــت او د معلوماتي ټیکنالوژۍ اړوند خدمتونه پیاوړي شــي، افغانستان کولی شي د ډیجیټلي اقتصاد له نړیوالو او سیمه ییزو جریانونو څخه اقتصادي ګټــه واخلي. د ټیکنالوژۍ پراختیا د ځوانانو له پاره د کار او نوښت نوي فرصتونه رامنځته کوي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په وینا، د بې‌کارۍ د کمولو له پاره په بېلابېلو سکتورونو کــې پراختیایــي پروژې او د خصوصــي ســکتور د فعالیتونو د اســانتیا له پاره مالیاتي تخفیفونه اعلان شوي، خو د ټیکنالوژۍ سکتور ته پاملرنه کولی شي د دې هڅــو تر څنګ د لوړې کچې مهارتونو او دوامداره کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې هم ونډه ولري.